# مطبوعاتي اعلامیه

## فېسبوک د هغو کسانو په همکارۍ چې له فکري او سیاسي پلوه ناکام شوي، د حزب التحریرـ ولایه تونس د فېسبوکپاڼې پر وړاندې جګړه پیل کړې ده

د فېسبوک ادارې په پر له پسې توګه د حزب التحریرـ ولایه تونس د مطبوعاتي دفتر فېسبوکپاڼه پرون، د ۲۰۲۰م کال، د جون په ۱۸مه د یوولسم ځل لپاره وتړله. دا کار وروسته له هغې کېږي چې حزب التحریرـ ولایه تونس یوه اعلامیه خپره کړې وه چې سرلیک یې و: «په تونس کې د امریکایي ځواکونو ځای پر ځای کول لوی شر دی» حزب تونس ته د امریکایي صلیبي ځواکونو د ننوتلو په اړه خبر ورکوي، په دې سره د فېسبوک ادارې دا اړخ هم روښانه شو چې د حزب التحریر د پاڼو پر وړاندې یې جګړه پیل کړې ده.

د پاڼو تکراري تړل هغه مهال زیات شول چې د حزب التحریر له لوري د کارپوهانو، مفکرانو، قاضیانو، وکیلانو، پروفیسورانو او سیاسیونو څخه غوښتنه وشوه، تر څو د حزب التحریر پر متمدن بدیل چې د دوی په واک کې ورکړل شوی دی فکر وکړي، چې اساس یې اسلام دی او د یوې شرعي اړتیا په توګه رامنځته شوی دی. حزب نن ورځ د شرعي مسوولیتونو سربېره په پر له پسې توګه د سیاسي بیانونو، کمپاینونو او خبرو اترو له لارې د تونس خلک له کړکېچ څخه ډک نظام څخه د ایستلو هڅه کړې ده. دا په اقتصادي اړخ کې د اسلامي احکامو عظمت ښیي، د پاڼو له پوښښ سربېره، هغه لاریونونه او ویناوې چې د حزب غړي یې د هېواد په بېلا بېلو ایالتونو کې تر سره کوي، په تونس کې د مسلمانانو بېلا بېلې مسالې په ګوته کوي.

د فېسبوک ادارې یو ځل بیا ثابته کړه چې د استعماري دولتونو او د هغوی له محلي وسایلو سره اړخ لګوي، چې اجیرانو ته یې د استخباراتي معلوماتو او راپور ورکولو په وسیله غواړي د خلافت د پروژې په پټ ساتلو کې مرسته وکړي او د دعوتګرانو پر وړاندې یې خنډونه جوړ کړي. د غربي تمدن افلاس په سیاسي او فکري توګه له اسلام سره د مقابلې توان نه لري، نو ځکه یې د مخنیوي لپاره د دېکتاتورۍ رژیمونو له تګلارې کار اخلي. د حزب التحریرـ ولایه تونس اختیار تر هغه څه لوړ دی، چې فېسبوک او د دوی بوټ پاکان یې فکر کوي.

د خلافت د پروژې پر وړاندې به د فېسبوک ادارې دوښمني په ټولو اسلامي خاورو کې انعکاس ولري. د خلافت دولت چې موږ به یې ډېر ژر انشاءالله تاسیس کړو، نه یوازې فېسبوک به بندوي او د چین په څېر به خپلې شبکې رامنځ ته کوي، بلکې فېسبوک او د هغه ځانګې به په نړیوالو بازارونو کې څارې، تر څو د خلافت دولت ټولنیزې شبکې د کمزورو خلکو لپاره فکري او سیاسي چوکاټ رامنځته کړي، چې په پاڼو کې د پانګوال نظام بې عدالتي او د سیکولریزم تتوالی شنډ کړي.

﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيباً﴾[اسرا: ۵۱]

***ژباړه:*** *هغوی به په سر خوځولو پوښتنه وکړي: «نبه نو دا به کله وي؟» ورته ووایه: «ولې حیرانېږئ؟ هغه وخت نږدې راتلونکی دی.*

**د حزب التحریر۔ ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د شوال ۲۸مه**

**۲۰۲۰م کال، د جون ۱۹مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۴۱**